د افغانستان اسلامي امارت
د اقتصادي چارو کمېسیون
(۶) مه مصوبه
د ۱۴۴۴ هـ.ق کال د رجب المرجب ۱۰مه
د ۱۴۰۱ هـ.ش کال د سلواغې ۱۲مه

د افغانستان اسلامي امارت
د اقتصادي چارو کمېسیون

---

د اقتصادي کمېسیون د ۱۴۴۴ هـ.ق کال شپږمه غونډه، چهارشنبه د رجب المرجب ۱۰مه (د ۱۴۰۱ هـ.ش کال د سلواغې ۱۲ مه) له غرمې مخکې پر(۱۰:۰۰) بجو په مرمرینه مانۍ کې د عظیم‌الشان قرآن د مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل شوه. غونډې د ریاست الوزراء د اقتصادي مرستیال او اقتصادي کمېسیون رئیس محترم الحاج ملا عبدالغني برادر آخند په مشرۍ دوام وکړ.

په غونډه کې له هر اړخیزو بحثونو وروسته، لاندې پرېکړې وشوې:

**لومړی موضوع:** د اوبو او انرژۍ وزارت غوښتنه کړې ده چې د هلمند ساختماني او فلزي عناصرو تصدي دغه وزارت ته ولېږدول شي. عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله اقتصادي کمېسیون ته داسې حکم صادر کړی دی: (د پیشنهاد متن د غوښتنې په هکله غور وکړئ، له دلایلو سره نظر راولېږئ.)

| | پرېکړه | تطبیق کوونکی | وخت |
|---|---|---|---|
| ۱ | د اوبو او انرژۍ وزارت ته د هلمند ساختماني او فلزي عناصرو تصدي د انتقال اړوند دې د تخنیکي کمېټې د دې نظر چې «د مالیې وزارت، صنعت او سوداګرۍ وزارت، اقتصاد وزارت، چارو اداري لوی ریاست او د ا.ا.ا د ریاست الوزراء د اقتصادي معاونیت له استازیو که یوه کډه کمېټه جوړه شي چې د دولتي شرکتونو په اړه د ا.ا.ا د مشرتابه عالي مقام، ریاست الوزراء محترم مقام، کابینې او اقتصادي کمېسیون ټول حکمونه، پرېکړې او امرونه په هر اړخیزه او دقیقه توګه وڅېړي، د دولتي شرکتونو قانون، جوړښت، مدیریت، نظارت او نورو اړوندو اړخونو ته نوې کتنه وکړي او دا جوته کړي چې د دولتي شرکتونو اوسنی جوړښت ښه کار کوي او که نه؛ په کومو برخو کې اصلاحاتو او بدلونونو ته اړتیا ده. بیا دې یوه هر اړخیزه طرحه برابره کړي او اقتصادي کمېسیون ته دې وړاندې کړي چې له تایید وروسته د تصویب لپاره د مشرتابه عالي مقام ته واستول شي» په تائید دې، هر اړخیزې څېړنې تر سره شي؛ موظفه کمېټه دې د یادې موضوع اړوند څېړل ګزارش اقتصادي کمېسیون ته وړاندې کړي. | اقتصادي معاونیت او اړوندې اداري | یوه میاشت |

**دویمه موضوع:** افغان انوېسټ شرکت د ارغستان بند د جوړولو لپاره د غور د سربو کان د قرار داد غوښتنه کړې ده. عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله داسې حکم صادر کړی دی:

د افغانستان اسلامي امارت
ریاست الوزرا اقتصادی معاونیت
Islamic Emirate of Afghanistan
Economic Commission Secretariat

"وکتل شو! د اقتصادي چارو کمېسیون ته! السلام علیکم ورحمة الله و برکاته! و بعد: موضوع تاسو ته راجع شوه ( د ارغستان بند جوړول او د زرقول کان قرارداد)، تاسو یې په هکله هر اړخیزه څېړنه وکړئ، که مو نظر مثبت وي نو خپل نظر موږ ته راولېږئ! والسلام."

| | پرېکړه | تطبیق کوونکی | وخت |
|---|---|---|---|
| ۲ | دا چې د هندي WAPCOS شرکت سره د اوبو او انرژۍ وزارت د تماسونو په پایله کې، نوموړی شرکت حاضر نه دی چې د ارغستان بند چارې په مناسب قیمت پر مخ بوزي، نو د ارغستان بند پخوانی قرارداد دې د هندي WAPCOS کمپنۍ سره د تدارکاتو ملي کمېسیون لخوا فسخه شي؛ د اوبو او انرژۍ وزارت دې د ارغستان بند د سروې، ډیزاین او ساختماني چارو اړوند پاتې چارې د بو بل ور شرکت سره مخته بوزي.<br>د کانونو او پټرولیم وزارت دې د غور ولایت د تولک د سربو او د هرات ولایت د غوریانو د وسپنې کانونو اړوند خپلې چارې د اصولو سره سم، د خپل پلان مطابق مخته رواني کړي. | اوبو انرژۍ، کانونو او پټرولیم وزارتونه او د چارو اداري لوی ریاست | دوه اونۍ |

دریمه موضوع: د ریاست الوزراء عالي مقام رحمت ساحل محمد شرکت ته د ټکس د معافیت په اړه اقتصادي کمېسیون ته دامې هدایت کړی دی: د اقتصادي چارو محترم کمېسیون دې د یادې موضوع په اړه خپل نظر راسره شریک کړي چې یاد مبلغ ورته معاف شي او که نه؟ سره له دې چې دوی ته څو ځلې په یاد محصول کې تخفیف ورکول شوی دی.

| | پرېکړه | تطبیق کوونکی | وخت |
|---|---|---|---|
| ۳ | د رحمت ساحل محمد شرکت او د لرګیو نورو کسبه کارانو لپاره د ټکس معافیت اړوند، د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت د اقتصادي رئیس په مشرۍ د مالیې، کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ، اقتصاد، صنعت او سوداګرۍ وزارتونو استازي دې په ګډه کار وکړي او د موضوع اړوند خپلې موندنې او حل لارې دې اقتصادي کمېسیون ته وړاندې کړي. | اقتصادي معاونیت او اړونده وزارتونه | دوه اونۍ |

څلورمه موضوع: کابینې د کانونو او پټرولیم وزارت په غوښتنه د تخار ولایت د چاه آب ولسوالۍ د سمتي سیمې د سرو زرو کان استخراج د قانوني کولو په اړه اقتصادي کمېسیون ته دنده سپارلې ده چې دا موضوع وڅېړي او د څېړنې پایلې د تصمیم نیولو لپاره د کابینې غونډې ته وړاندې کړي.

| | پرېکړه | تطبیق کوونکی | وخت |
|---|---|---|---|
| ۴ | د کانونو او پټرولیم وزارت اړوند د تخار ولایت د سمتي سرو زرو کان دې آزادې داوطلبۍ ته وړاندې شي. | کانونو او پټرولیم وزارت | |

Economic Commission Secretariat